بسم الله الرحمن الرحيم

# د فلسطين د مسلې یوازینی او اساسي حل خلافت دی!

**خبر:**

د ترکیې د بهرنیو چارو وزیر هاکان فیدان مالتا ته په سفر کې د مالتا د بهرنیو چارو، اروپایي چارو او سوداګرۍ وزیر ین بورګ سره په یوه ګډه مطبوعاتي اعلامیه کې وویل چې د فلسطین د قضیې لپاره غوره حللاره د ۱۹٦۷ کال په مرزونو کې د دوو-دولتونو حللارې منل دي. (خبري اژانسونه)

**تبصره:**

د بهرنیو چارو وزیر هاکان فیدان تر دې وړاندې هم څو ځله ورته خبرې کړې دي؛ په دې وروستیو کې یې په یوه تلویزیوني خپرونه کې هم دا خبره تکرار کړې. هاکان فیدان مالتا ته د خپل وروستي سفر په ترڅ کې په ګډه مطبوعاتي اعلامیه کې وویل چې دوی غواړي په سیمه کې د دوو-دولتونو د حل پر بنسټ یوه تلپاتې سوله راولي؛ داسې به اسراییل او فلسطین دواړه دایمي امنیت ولري او سیمې ته د جګړې غځېدو او ګواښونو رامنځته کېدو مخه به ونیول شي.

هاکان فیدان په جنوري کې د حماس د سیاسي دفتر له مشر اسماعیل هنیه سره په لیدنه کې، په غزه کې پر سمدستي اوربند، د بشري مرستو زیاتېدو، د یرغمل شویو کسانو خلاصون او د تلپاتې سولې لپاره د دوو-دولتونو حللارې په اړه غږیدلی و. په لیدنه کې د ترکیې د ضامن کېدو موضوع هم مطرح شوه؛ فیدان په دې اړه وویل: «په دې کې ترکیه هم شاملېږي. خو پرېږدئ چې نور هیوادونه د اسرایلو ضامن شي. یوه داسې توافق ته تر رسېدو وروسته چې دواړه لوري به یې مني، تضمین کوونکي هېوادونه باید د دغه توافق د الزاماتو پوره کولو مسولیت پر غاړه واخلي.» روښانه ده چې فیدان داسې کار کوي چې هم د امریکا د دوو-دولتونو پلان پلی شي او هم د یهودو امنیت خوندي شي. په ورته وخت کې ترکیه، قطر، مصر او روسیه د حماس لخوا له لوري د حماس او یهودي دولت ترمنځ د درې پړاوه اوربند – چې مصر او قطر د حماس او اسرایلو ترمنځ د تش په نامه جګړې د پای ته رسولو لپاره تسهیل کړی- پلي کولو لپاره ضامن هیوادونه نومولي.

لکه څنګه چې ترکیې ته د امریکا له لوري ماموریت ورکړل شوی و چې د سوریې رژیم د مخالفو ډلو پر وړاندې له زوره کار واخلي او له خپلې لارې یې کږې کړي؛ اوس پر حماس د سیاسي فشار اچولو سیاست پر مخ وړي چې حماس د امریکایي پلانونو منلو ته قانع کړي.

دا ټولې ګمراه کوونکې هڅې او په دې برخه کې اخستل شوي ټول ډیپلوماټیک ګامونه د اشغالګر دولت د ساتنې لپاره دي. دا د خیانت هڅې د اشغالګر یهودي دولت په ګټه دي. ترکیه او نور عرب رژیمونه د یهودي دولت امنیت ته ډېر ارزښت ورکوي. دوی خپله ټوله هڅه کوي چې د دغه یهودي دولت –چې د مسلمانانو

نسل‌وژنه کوي- له پاینښت سره مرسته وکړي. یهودي دولت خپل ٦٠ سلنه نفت له اذربایجان او قزاقستان څخه اخلي. د اکتوبر په ۷مه او تر دې وړاندې، تر یو میلیون بېرلو بیرلو زیات د ترکیې له لارې یهودي دولت ته لېږدول شوي. دا نفت د باکو – تفلیس – جیهان پایپ لاین له لارې د ترکیې جیهان بندر ته او له هغه ځایه د ټانکرونو په واسطه د اسرایلو ایلات بندر ته لېږدول شوي.

که د دغو دولتونو او حکامو مرستې او خیانتونه نه وی، اشغالگر یهودي دولت هیڅکله هم په دې مبارکه خاوره کې نه شي پاتې کېدی. یهودي دولت ځکه د مسلمانانو د ټول‌وژنې جرات کوي چې پر اسلامي خاورو حاکم د امریکا لاسپوڅي چپ دي او ډارېږي. هر وحشت چې د یهودي دولت زړه وغواړي، په غزه کې یې کوي؛ ځکه ډاډه دي چې د اسلامي خاورو حکام پورته هم نه ورته گوري. نو که په غزه کې لسگونو زره مسلمانان هم ووژل شي، یهودي دولت به د خپلو نظامي او سیاسي موخو لپاره د ټولو ژوندیو او نا ژوندیو موجوداتو له منځه وړلو ته دوام ورکړي. په ورته وخت کې یهودي دولت ډاډه دی چې که په غزه کې خپلو موخو ته ورسېږي، د اسلامي خاورو حکام به داسې ورسره د اړیکو عادي کولو ته دوام ورکړي، لکه هیڅ چې نه وي شوي او نه به د مسلمانانو د دومره وینو تویولو پوښتنه ترې وکړي.

نو، د ۱۹٦۷م کال په پولو کې د دوو دولتونو حللاره د امریکا شیطاني پلان دی. د دغه پلان پلي کول ستر جرم او حرام کار دی. د فلسطین د مسلې حل نه د ۱۹٦۷م کال په پولو کې د دوو-دولتونو حللاره ده او نه د فلسطین په ټوله خاوره کې د سیکولر دولت جوړول؛ بلکې یوازینی او اساسي حللاره یې د خلافت دولت تاسیس دی، چې د الله سبحانه وتعالی د نازل شویو احکامو له مخې حکومت کوي!

## د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر ته

## یلماز چیلیک